AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

د جنوبي پښتونخوا دپښتو لنډي قيصي فکرى ليد لوري
THEMATIC PROSPECTS OF THE PASHTO SHORT STORY IN SOUTHERN PASHTUNKHWA

♣ **Rafiullah**
♦**Dr.Barkat Shah Kakar**

Abstract:
Stories are among the most vivid mirrors of human civilizations. Ancient narratives preserved in cave inscriptions, archaeological discoveries, and classical texts provide valuable insights into the perceptions, myths, beliefs, values, aesthetic sensibilities, and intellectual traditions of past societies. With the advent of the Industrial Revolution in Europe, traditional modes of storytelling gradually evolved into modern literary forms and narrative frameworks. Consequently, genres such as the novel, short story, and drama were introduced and adapted by colonized societies across different regions of the world.
Contemporary Pashto fiction emerged as part of the broader cultural, educational, and technological transformations associated with modernity. The origins of the Pashto novel and short story can be traced to the early twentieth century, marking a significant shift in the literary landscape of Pashto-speaking communities. Among these genres, the short story has developed a rich and distinctive tradition in Southern Pashtunkhwa.
This paper explores the historical evolution of the short story in Southern Pashtunkhwa by tracing its ideological, thematic, and structural developments. It examines the ways in which social, cultural, and historical realities have shaped the thematic concerns and artistic expressions of short-story writers. The study highlights the interrelationship between literary production and the changing dynamics of Pashtun society, thereby contributing to a deeper understanding of the development of modern Pashto fiction.

Key Words:
Mythology, Pashto Fiction, Short Story, Themes, Southern Pashtunkhwa

لنډي کيسي تاريخي شاليد: يا لنډ تاريخ:
د انساني تهذيب، تاريخ له پيل سره سم، قيصه د انسان د شعور، حافظې او اجتماعي تجربې يوه نه بېلېدونکې برخه پاتې شوې ده. انسان چې کله د خپل چاپېريال، فطرت، مرګ، ژوند، وېرې، مينې او نامعلومو قوتونو د تعبير هڅه وکړه، نو د همدې فکري او جذباتي اړتياوو له بطنه اسطوره، روايت او قيصه وزېرېده. له همدې امله د قيصې تاريخ د بشري تمدن له تاريخ سره تړلی دی. هر هغه ځای چې انسان هلته د خپل اجتماعي ژوند بنسټ ايښی، هلته د کيسې، حکايت او داستان نښې هم موندل کېږي. په لومړنيو بشري ټولنو کښې قيصې د شفاهي روايت په بڼه له يوه نسل څخه بل نسل ته انتقالېدلې او د ټولنيز شعور، اخلاقي روزنې، تفريح او تاريخي حافظې د خوندي کولو وسيله وه.د قصې د تاريخي قامت په حکله **ليکوال ابن حنيف ليکي:**
" قيصه د زرګونو کلونو څخه د انسان په ذهن کې ګربين جوړ کړ ی دی، او تقريباً د درې زره قبل مسيح له دورې راهيسې قيصې ليک ته لاره کړې ده." (1)
د قيصې اولنۍ بڼه زياتره له اساطيرو، مافوق الفطرت مخلوق، مذهبي رسومون، روايتونو او فولکلوري تخيل سره تړلې وه. په پخوانيو مدنيتونو کښې انسان د فطرت د مر موزو او نامعلومو قوتونو تعبير د اسطوري قيصې په بڼه کړی دی. دغه بحث جېمز جورج فريزر په خپل مشهور اثر The Golden Bough کې څه داسې راوړی دی.
" اسطوره او قيصه د انساني فکر ابتدايي وسيلې وې، چې انسان پرې د کائنات نظم او مانا درک کول غوښتل .د نړۍ تر ټولو لرغوني داستاني اثار د سومري، مصري، يوناني او آريايي، آريانا افغانستان تمدنونو په ادبياتو کښې موندل کېږي. د بابل حماسه ګيلګامېش د بشري تاريخ له لومړنيو داستاني روايتونو څخه ګڼل کېږي، چې پکې د مرګ، اتلولۍ

♣ M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.
♦ Associate Professor,Head of Department of Pashto,University of Balochistan, Quetta

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

او انساني بېوسۍ فلسفيانه اړخونه انځور شوي دي. په لرغوني مصر کښې د سينوهه Shipwrecked Sailor ، او The Two Brothersپه څېر قيصو د اخلاقي، تمثيلي او انساني تجربو استازيتوب کاوه." (2)
په هند و آرياييِ روايتونو کښې هم داستاني ادب ځانګړی مقام لري. رګ ويدا، مهابهارت، رامايڼه او پنچاتنتره د داستاني روايتونو هغه مهمې سرچينې دي چې وروسته يې د نړۍ پر ادبياتو ژور اغېز وکړ. د جټاکا کيسو د بودايي اخلاقو او انساني همدردۍ مفاهيم وړاندې کړل، په داسې حال کښې چې پنچاتنتره د حيواني تمثيل له لارې سياسي او اخلاقي شعور بيان کړ. دغه داستانونه وروسته عربي، فارسي او اروپايي ژبو ته وژباړل شول او د نړيوال ادبي ميراث برخه وګرځېدل.
د يوناني تمدن داستاني روايتونه بيا د اسطوري، جادو او اخلاقي تمثيل پر بنسټ ولاړ وو. د Aesop’s Fables کيسو د حيواناتو له لارې انساني اخلاق او ټولنيز سلوک بيانولو. د زمري او موږک، چغال او انګورو او سوي او کيشپ کيسي تر اوسه د نړۍ د فولکلوري ادبياتو مهمه برخه ګڼل کېږي. همدا راز، يوناني فيلسوفانو او مورخينو د قيصې فلسفي او جمالياتي اړخونو ته هم پام وکړ، چې وروسته يې د داستاني ادب پر ارتقا ژور اغېز پرېښود.
د عربي او اسلامي تمدن مشهور اثر الف ليله و ليله يا زر او يوه شپه د داستاني روايت په تاريخ کښې ځانګړی مقام لري. د شهرزاد د قيصې دننه قيصې تکنيک نه يوازې د داستاني جوړښت نوي بڼه وړاندې کړه، بلکې د تخيل، تعليق او انساني تجربو يو پراخ جهان يې رامنځته کړ. دغه اثر وروسته د اروپا د داستاني ادب پر پرمختګ هم ژور اغېز وکړ.
په آريانا افغانستان کښې هم د داستاني روايت لرغونی ميراث په ډېر خوندېتوب او تاريخي هويت سره موجود دی. د اوښتايي، ويدي او زردشتي روايتونو تر څنګ د افغانستان فردوسي په شاهنامه کښې د اسطورې، تاريخ او اتلولۍ له لارې د سيمې تاريخي حافظه او اجتماعي شعور خوندي کړ. د رستم، سهراب، کاوه آهنګر او بيژن و منيژۍ کيسې د مقاومت، قربانۍ او انساني ارزښتونو هنري انځورونه دي. د انګريزي ژبې ليکوال برنر ليکي:
"له بلې خوا، جروم برونر قيصه د انساني شعور يوه بنسټيزه ذهني وسيله ګڼي. د هغه په اند، انسان د نړۍ د درک لپاره دوه بنيادي فکري نظامونه لري؛ تحليلي او قيصوي. قيصوي نظام انسان ته دا توان ورکوي چې خپلې تجربې منظمې او ماناداري کړي" .(3)
اسطورې او قيصې په اوسني وخت کې هم بقا موندلې ده، دساختيات نامتو فلسفي رولان بارت په خپل اثر Mythologiesکښې دليل وړاندې کوي چې حتا معاصر سياست، رسنۍ، فلمونه او ملي روايتونه هم اسطوري جوړښتونه لري او د انساني شعور د هويت جوړونې برخه ګرځي" .(4)

که څه هم د معاصرې لنډې قيصې فني او ادبي جوړښت د جديد يورپي روايت څخه رڼا اخيستې ده، خو د دې ژانر ريښې د نړۍ په لرغونو اساطيرو، مذهبي روايتونو، شفاهي ادب او فولکلوري حافظه کښې پرتې دي. همدا داستاني روايتونه وروسته د جديدې لنډې قيصې د ودې او ارتقا بنسټ وګرځېدلد منځنيو پېړيو نه وروسته، د اروپا د نشاطِ ثانيه (Renaissance) له فکري او علمي بدلونونو سره د داستاني ادب نوي مرحله پيل شوه. د ګوټنبرګ د چاپ ماشين (Printing Press) اختراع د کتابونو د چاپ او د علم د خپرېدو لړۍ چټکه کړه، چې ورسره لنډه قيصه هم له شفاهي او محدودو روايتونو څخه د يو منظم ادبي صنف په توګه راڅرګنده شوه. په همدې دوره کښې Geoffrey Chaucer د (The Canterbury Tales* (1387–1400* له لارې د اروپايي داستاني ادب بنسټيز بدلون رامنځته کړ، چې پکې بېلابېل داستاني ژانرونه، ولسي روايتونه او اخلاقي حکايتونه راټول شوي وو. ورپسې Giovanni Boccaccio په (The Decameron* (1349–1353* کښې د "قيصې دننه قيصه" تکنيک او د انساني ژوند واقعي او ټولنيز اړخونه د نوي هنري بڼې سره وړاندې کړل. وروسته په فرانسه، جرمني، روسيه او امريکا کښې لنډې قيصې نوره هم فکري او فني وده وکړه. د ۱۹مې پېړۍ په دوران کښې Edgar Allan Poe د "واحد تاثير" (Single Effect) نظريه وړاندې کړه او معاصره لنډه قيصه يې د نفسياتي ژورواليِ، هنري وحدت او فکري اغېز له پلوه يو مستقل ادبي ژانر وګرځاوه. ورپسې Anton Chekhov، Guy de Maupassant، او نورو اروپايي او روسي اديبانو د واقعيت نګارۍ، ټولنيز شعور او انساني نفسياتو له لارې د لنډې قيصې هنري اُفقونه نور هم پراخ کړل. د صنعتي انقلاب، بښاري ژوند، او د انسان د مصروفيتونو زياتېدو له امله لوستونکي د اوږدو داستانونو پر ځای لنډ، اغېزناک او فکري نثر ته متوجه شول؛ همدا وجه ده چې معاصره لنډه قيصه د جديد دور د ادبي او ټولنيزو ضرورتونو يو مهم صنف وګرځېد.
پېښتو ادب ته د لنډې کيسې راتګ او د سهيلي پېښتونخوا سره يې ارتباط؛
پېښتو ادب ته د لنډې کيسې راتګ د شلمې پېړۍ له هغو ژورو فکري، سياسي او تمدني بدلونونو سره تړاو لري چې د صنعتي انقلاب، استعماري نظام، د هغه اثرات او چاپي مطبوعاتو د پراختيا په پايله کې رامنځته شول. د اروپا صنعتي او استعماري قوتونو، په ځانګړي ډول انګرېز استعمار، نه يوازې د آسيا او افريقا اقتصادي سرچينې تر خپل نفوذ لاندې

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

راوستي، بلکي د مستعمره ټولنو پر فکري، تعليمي او ادبي جوړښتونو يې هم ژور اغېز وکړ. د همدې بهير اغېزې د پښتنو سيمو ته هم ورسېدې او پښتني ټولنې په سياسي، اقتصادي او فرهنګي ژوند کې خپلې تدريجي بدلونونه راوستل.
د ښارونو د تمدن، جديد تعليم، مطبوعاتو او نوې اداري نظامونو د رامنځته کېدو سره د پښتني ټولنې روايتي جوړښتونه ورو ورو د بدلون پر لور ولاړل. په همدې فضا کې د بيان نوې ادبي بڼې راڅرګندې شوې چې لنډه کيسه يې يو مهم ادبي صنف وګرځېد. لنډې کيسې د پښتني ټولنې د دردونو، ټولنيزو تضادونو، ښځينه محروميت، اقتصادي ستونزو او فکري بيدارئ د اظهار لپاره يوه نوې ادبي ژبه برابره کړه.
د پښتو لنډې کيسې د پيل په اړه څېړونکي په بېلابېل نظر دي چې عظمت هما په دې اړه ليکي:

"اردو اور پشتو ایک ہی دور کے پیداوار ہے اگرچہ پشتو ادب میں افسانہ اردو ادب کے ذریعے متعارف ہوا۔"(5)

ژباړه:اردو او پښتو د يوې زماني پيداوار دي، که څه هم پښتو ادب ته افسانه د اردو ادب له لارې ورپېژندل شوې ده.

د اردو افساني د پرمختګ سره سم پښتو ليکوالو هم د نوي داستاني اسلوب، واقعيت نګارۍ او ټولنيز شعور پر لور مخه کړې ده. له همدې امله د پښتو معاصرې افساني لومړنۍ بېلګې د اصلاح غوښتنې، ټولنيز انتقاد او انساني محروميت له موضوعاتو ډکې دي.
د پښتو د لومړۍ معاصرې افساني په ټاکلو کې د محققينو ترمنځ اختلاف موجود دی. ځينې څېړونکي جي جي لوريمر، ميا ازاد ګل کاکاخېل او «به لړم پيرنګی» د پښتو د افسانوي ادب له لومړنيو نومونو څخه ګڼي، خو زياتره معاصر محققين د سيد راحت زاخېلي «ګونده جينی» (1917ز) د پښتو لومړۍ چاپ شوې معاصره لنډه کيسه بولي. عبدالله جان په دې اړه ليکي:
"تر ۱۹۸۷ پورې سيد راحت زاخېلی د پښتو لومړۍ افسانه ليکوال ګڼل کېده، خو وروسته قلندر مومند د جي جي لوريمر اړوند نوې څېړنه وړاندې کړه" -(6)
سره له دې اختلافاتو، د دېرۍ څېړونکو ترمنځ دا خبره منل شوې ده چې «کونده جينی» د پښتو د معاصرې افساني د منظم بهير بنسټ کېښود. راحت زاخېلي په دې افسانه کې د پښتني ټولنې د ظالمانه دودونو، ښځينه محروميت او ټولنيزو نابرابريو ژور انځور وړاندې کړی دی. د دې افساني رنګ د دې خبرې څرګندونه کوي چې پښتو لنډه کيسه له پيله د ټولنيز شعور او فکري بدلون ژبه وه.
د ۱۹۴۷ز کال وروسته د پښتو افساني بهير نور هم پراخ شو. ادبي تنظيمونو، مجلو، سياسي مقاومتي ملتپالو شعور او ورځپاڼو د لنډې کيسې د ودې لپاره زمينه برابره کړه .
سمندر خان سمندر، د ماسټر عبدالکريم، عبدالرحيم مجروح، سيد رسول، مولانا عبدالقادر، فاروق شينواری، اپس اپس رحمان، عبدالحميد انور، حمزه شينواری، مراد شينواری، سيد فريد الله شاه، نادر خان، مهدی شاه، اجمل خټک، قلندر مومند، ګل افضل خان، طائر افريدي، هميش خليل، چارګل زيتون بانو، (د پښتو لومړۍ ښځينه افسانهنويسه) هينداره، ژوندی غمونه، مات بنګړی، پروفيسر نورالامين، سدر حکيم اسير مينګل، ماښام خټک، رحمت شاه سايل خپلو افسانو کې سياسي شعور، ټولنيز تضادونو، طبقاتي و ملي تضاد، قومي احساس و مقاومتي فکر، ښځينه نفسيات او ټولنيز بحرانونه انځور کړل. په دې مرحله کې افسانه د مقاومت، احتجاج او فکري بيدارئ ادبي اظهار وګرځېد.
د پښتو لنډې کيسې دغه فکري او ادبي دوام وروسته سهيلي پښتونخوا ته هم ورسېد، خو د سيمې د جغرافيايي، سياسي او تعليمي محدوديتونو له امله دلته دا عمل نسبتاً ورو پيل شو. زرين انځور په دې اړه ليکي:

"د سهيلي پښتونخوا د نوي داستاني ادب نخښې نښانې د ځينو عواملو له مخې د پښتونخوا پېښور او شاه و خوا افغانستان په نسبت وروستو راپېلپرې." (7)

په سهيلي پښتونخوا کې د ادبي او داستاني شعور د ودې لپاره مطبوعاتو او مترقي ملتپالو فکر مهم رول ادا کړ. خو کله چې د استقلال، خورشيد ورځپاڼي او وروسته د پښتو مجلې خپرونې پيل شوې، نو د فکري بدلون لپاره شرايط برابر شول.
د پښتو مجلې خپرېدو (1953ز) د داستاني ادب لپاره يوه نوې فضا رامنځته کړه. دغه مجله چې د مترقي ملتپاله ډاکټر خداييداد او ستر مترقي ملتپاله مشر سائيں کمال شيراني تر سرپرستۍ لاندې خپرېده، د فکري او ادبي بدلون مهم مرکز وګرځېد. وروسته "ولس" مجلې هم د افسانوي ادب د ودې لپاره مهم خدمات ترسره کړل.
د مستند څېړنو له مخې، فاروق شاه سمايلزی د سهيلي پښتونخوا د لومړي معاصر افسانه ليکوال په توګه يادېږي. د هغه افسانه "بدل" چې په 1953ز کال د "پښتو" مجلې له لارې خپره شوه، د سهيلي پښتونخوا د معاصرې افساني بنسټيز اثر ګڼل کېږي. زرين انځور په دې اړه ليکي:

"د وسني معلوماتو پر بنسټ د سهيلي پښتونخوا د معاصرو داستاني ادیبانو لومړۍ هڅه فاروق شاه سمایلزي کړې ده". (8)

د همدې نظر ملاتړ فهمیده تاج اخکزۍ هم کړی. هغې په خپل ایم فل تهسیز "بلوچستان میں پشتو افسانے کا آغاز اور تاریخی پس منظر" کې د فاروق شاه سمایلزي د "بدل" افسانه د سهيلي پښتونخوا د پښتو لومړنۍ افساني په توګه مستند معرفي کړې ده". (9)

د فاروق شاه سمایلزي افسانوي شعور د ولسي روایت، عصري فکر او ټولنیز احساس ګډ انعکاس و. د هغه پر سبک د خلیل جبران د فلسفي او رمزي فکر اغیزې هم لیدل کیږي. تر هغه وروسته پروفیسر ربنواز مائل، سلطان محمد صابر، محمد علي بازي، عبدالخالق کاسي، نصیب الله سمیاب، خلیل باور او محمد صادق ژړک د سهيلي پښتونخوا د افسانوي ادب مهم استازي وګرځېدل.

د سهيلي پښتونخوا د لنډې کیسې ارتقا په درېیو مهمو پراوونو وېشل کیږي؛ لومړی د ناچاپه تخلیقي هڅو دوره، دوهم د مجلو او ادبي اظهار دوره، او دریم د فني پخوالي او منظم داستاني جوړښت دوره .

لومړی پراو هغه وخت ته ورګرځي چې د افساني لپاره د خپرونې رسمي فورمونه نه وو موجود. د دې دورې ډېرې کیسې د لیکوالانو شخصي مکتوبات، شخصي یاداشتونه یا د مجلسي روایت په بڼه موجودې وې. زرین انځور (۲۰۲۰، مخ ۵) یادونه کوي چې دغه تخلیقي هڅې د چاپ تر کچې نه وې رسېدلي، خو د ادبي ذوق او تخیل د ودې یوه پټه نښه وې. د دې پراو مهم نومونه د فاروق شاه سمایلزي، پروفیسر ربنواز مائل او سلطان محمد صابر دي، چې د افسانوي وجدان لومړني بنسټګر ګڼل کیږي.

دوهم پراو هغه وخت چې پښتو مجله، ګلستان مجله او ولس مجله خپرې شوې، د ادبي اظهار لپاره نوې لارې پرانیستل شوې. د پښتو مجلې د فاروق شاه سمایلزي د "بدل" افسانه چاپ کړه همدا ډول ولس مجله چې په ۱۹۶۱ز کال خپره شوه، د ابو الخیر ځلاند "ولور مات شو" افساني ته د چاپ فورم ورکړ. د دې پراو له مهمو نومونو څخه د فاروق شاه سمایلزي، پروفیسر ربنواز مائل، سلطان محمد صابر، محمد علي بازي، ابو الخیر ځلاند، عبدالخالق کاسي، عزیز مظایري، حاجي محمد مشوانی، محمد اعظم اعظم شاه، شاه افضل، تاج رحیم، سید خالد امید، لطیف پریشان، سهیل جعفر، میرزا خان پېڅي، درمحمد کاسي، ولی محمد ولي، نذر محمد شباب، عبدالرزاق تارن او ګڼ نور یادېږي. زرین انځور (۲۰۲۰، مخ ۱۱) دا دوره د استعماري جبر، ټولنیزې بې‌عدالتۍ او انساني واقعیتونو د هنري انځورګرۍ مرحله بولي

دریم پراو په دغه پراو کې افسانه یوازې د تخلیقي اظهار وسیله نه پاتې کیږي، بلکې د موضوع، جوړښت، تخیل، د شخصیت آزادۍ او فکري شعور له مخې یو منظم ادبي ژانر شکل نیسي. د دې مرحلې استازي لیکوالان علي کمیل قزلباش، نصیب الله سمیاب، خلیل باور، محمد صادق ژړک، درمحمد کاسي، نظر پانیزی او میرزا خان پښتو ګڼل کیږي

د سهيلي پښتونخوا د لنډو کیسو نظریاتي څېړنه:

د سهيلي پښتونخوا د پښتو افساني لومړی پراو د ټولنیز واقعیت پالنې-سوشل ریالیزم، انتقادي شعور او انساني درد د هنري بیان مهم پراو بلل کیږي. د دې دور افسانه د فردي احساساتو له محدود چوکاټه راوزي او د غربت، مهاجرت، جګړو، طبقاتي تضادونو، ټولنیزې بې‌انصافۍ او ذهني بحرانونو په څېر موضوعات د ټولنیز شعور له زاویې څېړي. د جان محمد زلمي، سلطان محمد صابر، ایوب صابر، فاروق سمائیلزي او ربنواز مائل په افسانو کې اقتصادي بې‌وسي، جبري مهاجرت، جګړه، هویت، پردیتوب او انساني کرامت هغه بنسټیز موضوعات دي چې د خپل وخت د سیاسي او ټولنیزو بدلونونو انعکاس کوي. دغه افساني د فردي ستونزو تر شا د پراخو ټولنیزو او تاریخي عواملو موندلو هڅه کوي او له همدې امله د واقعیت پالنې-ریالیزم او ټولنیز نقد-سوشل کرېټیک استازیتوب کوي.

همدارنګه د دې دور افساني د نفسیاتي ژورتیا، طبقاتي شعور او انساني ارزښتونو د دفاع مهم اړخونه هم لري. د وېرې، بیوازیتوب-بیګانګي، هویتي بحران identity crisis -او داخلي کشمکش تر څنګ د مذهبي زغم، انسان‌دوستۍ او ټولنیز عدالت غوښتنې مفکورې هم پکې څرګندې دي. په ځانګړي ډول د میرزا خان پېڅي په افسانو کې د کډوالۍ درد، پردیتوب-بیګانګي، وسلوال کلتور، د بنځو محرومیت، کورني بحرانونه او د دود او پرمختګ تر منځ ټکر د انتقادي شعور له زاویې وړاندې کیږي. په ټولنیز ډول د لومړي پراو افساني د سهيلي پښتونخوا د ټولنې اقتصادي، سیاسي او کلتوري تضادونه راڅرګندوي او د پښتو افساني د فکري او ایډیالوژیکي-نظریاتي ودې لپاره بنسټیزه زمینه برابروي.

بل لیکوال در محمد کاسي د سهيلي پښتونخوا د پښتو افساني له هغو مهمو لیکوالانو څخه دی چې افسانه یې د ټولنیز شعور، انتقادي فکر او فکري بدلون د وسیلې په توګه کارولې ده. د هغه افسانوي نړۍ د واقعیت‌پالنې، انسان‌دوستۍ او ټولنیزې ژمنتیا پر محور راڅرخي. کاسي د خپلې ټولنې ستونزې د یو فکري او ټولنیز مسؤول-زمه واره لیکوال په توګه

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

څېړي. له همدې امله د هغه په افسانو کې سياسي بې‌ثباتي، قبايلي جوړښت، فکري جمود، اقتصادي محروميت، جنسيتي-جنډر نابرابري او کلتوري تضادونه د انتقادي شعور له زاويې وړاندې کېږي.

د کاسي صاحب د افسانو يو مهم فکري اړخ د نرواک نظام او د ښځو د محکومې پر داخلي رغښتونو سوالونه راپورته کول دي. د «دُرشل»، « وخت»، «کړاو»، «وحشت» او «بېچاره» غوندې افسانو کې ښځه د ناروا دودونو، ټولنيز جبر ، جبري ودونو او ټولنيزو تورونو قرباني ده. ليکوال څرګندوي چې د ښځې په وړاندې زياتره ظلمونه د اخلاقي ارزښتونو په نوم جواز مومي، حال دا چې په حقيقت کې د واک، دود او نارينه محور فکر محصول وي. د هغه افساني د ښځې د انساني کرامت، فردي هويت او ټولنيزو حقونو دفاع کوي او په دې توګه د انتقادي او ښځينه شعور څرګندونه کوي.

بل مهم فکري محور د تعليم، عقلانيت او روښانفکرۍ دفاع ده. په «رنا» او «رښتيا» کې کاسي د جهالت، تعصب او فکري جمود پر ضد مبارزه کوي. د هغه په اند د ټولنې وروستهوالی يوازې اقتصادي ستونزه نه ده، بلکې د فکري بندښت idealogical status quo ، مصلحت پسندۍ او د حقيقت د نه منلو پايله هم ده. له همدې امله هغه علم، انتقادي تفکر او ټولنيزه پوهاوی د پرمختګ بنسټ ګڼي.

همدارنګه د کاسي په افسانو کې جګړه، کډوالي، سياسي بحران او ټولنيز استثمار د انساني تراژيدۍ په توګه انځور شوي دي. د «سپورمی»، «شمبي کاکا» او «بېچاره» په څېر افساني ښيي چې سياسي، طبعي کړکېچونه او تاريخي بدلونونه تر ټولو زيات اغېز پر عادي انسان کوي. د جګړو، بې‌ځايه کډو او اقتصادي جبر قربانيان هغه خلک دي چې په واک او پرېکړو کې هېڅ ونډه نه لري. له همدې امله د کاسي افساني د انسان د درد، حافظې، هويت او بقا کيسې دي.

که د د در محمد کاسي افسانوي ادب کې نظرياتي څېړنه وګورو نو هغه د واقعيت‌پالنې، ټولنيز عدالت، انسان‌دوستۍ، عقلانيت، ښځينه شعور او انتقادي تفکر استازيتوب کوي. هغه د پښتني ټولنې دوديز او سياسي جوړښتونه تر پوښتنې لاندې راولي او افسانه د ټولنيز پوهاوي، فکري بيدارۍ او فرهنګي بدلون د يوې اغېزمنې وسيلې په توګه کاروي. همدا ځانګړتياوې هغه د سهيلي پښتونخوا د پښتو افساني په نظرياتي بهير کې يو مهم او اغېزناک ليکوال ګرځوي.

د دې سره پروفيسر نظرمحمد نذر پانيزی د معاصرې پښتو افساني له هغو مهمو ليکوالانو څخه دی چې خپل افسانوي جهان يې د ټولنيز ريالېزم-سوشل ريالېزم ، انتقادي شعور او سياسي پوهاوي پر بنسټ جوړ کړی دی. د هغه د «د ازادۍ کانې» ټولګه د پښتني ټولنې سياسي، اقتصادي او کلتوري ستونزې د هنري او فکري نقد له لارې انځوروي.

د نظر صاحب په افسانو کې د طبقاتي استحصال، اقتصادي نابرابرۍ او ټولنيز عدالت موضوعات ځانګړی ځای لري. «پاسته لاسونه» او «پل» د کار او پانګې ترمنځ تضاد او د استحصالي-ځپېښاکي جوړښتونو نقد-نيرکه وړاندې کوي. همدارنګه «ثواب» او «پروسيجر» د بيروکراسۍ، اداري بې‌حسۍ او ساختاري نابرابرۍ پر وړاندې انتقادي دريځ خپلوي او څرګندوي چې کله نظام له انساني ارزښتونو تش شي، او نظام ساختياتي توګه ځپېښاک شي قانون او اداره د عدالت پر ځای د ظلم، ځپېښاک وسيلې ګرځي.

د نظر پانيزي افسانو بل مهم اړخ د قامي شعور او سياسي هويت مسئله ده. «د ازادۍ کانې» او «مار لار» د سياسي بې‌هويتۍ، مصنوعي- بل واکۍ غير فطري سرحدونو او ذهني استعمار-بنکېلاک موضوعات څېړي. ليکوال څرګندوي چې د ملتونو تر ټولو ستره ستونزه د جغرافيايي وېش سره سره د ذهني غلامي او سياسي بې‌خبرۍ هم ده. د هغه په اند آزادي يوازې سياسي شعار نه، بلکې د ځان‌پېژندنې، شعوري بيدارۍ او تاريخي مسئوليت يو بهير دی.

په هنري لحاظ د پانيزي افساني د تمثيل، سمبول، طنز او انتقادي ريالېزم پر بنسټ ولاړې دي. هغه د ورځنۍ ژوند عادي پېښې د ژورو ټولنيزو او سياسي مفاهيمو د بيان وسيله ګرځوي. د «وېينې» په څېر افساني د ظاهري تقدس تر شا پټ استبداد افشا کوي، او «ډاينوسار» د تاريخي بدلون او ارتقا مفکوره رااخلي.

د محمد نظر پانيزي افساني د ټولنيز عدالت، سياسي شعور، قامي پوهاوي او انتقادي فکر ادبي استازيتوب کوي. هغه افسانه د فکري، ملي، طبقاتي بيدارۍ او ټولنيز بدلون د يوې اغېزمنې وسيلې په توګه کارولې ده.

فاروق سرور د سهيلي پښتونخوا د پښتو افساني له هغو مهمو او نوښتګرو ليکوالو څخه دی چې افسانه يې د روايتي بيان له محدود چوکاټ څخه راايستلې او د علامتي، سمبوليک، نفسياتي او مزاحمتي-مقاومتي شعور افساني نوې فضا يې رامنځته کړې ده. د هغه افسانوي نړۍ د ټولنيز واقعيت، طبقاتي تضادونو، زبرځواک ځپېښاکونه سياسي بې‌عدالتۍ، کلتوري بېګانګۍ- کلچرل ايلينشن، رواني بحرانونو-نفسياتي کړکېچونه او انساني وجودي پوښتنو پر محور راڅرخي. د «دريه» څخه تر «اسمان به نه مړېږي» پورې د هغه افساني د پښتني ټولنې اقتصادي، سياسي او کلتوري تضادونه بيانوي او ورسره د دغو تضادونو تر شا پراته واکمن، ځپېښاک جوړښتونه او فکري عوامل هم تر پوښتنې لاندې راولي.

د فاروق سرور د افسانو يو مهم نظرياتي- ايډيالوژيکي اړخ په ډېر پراخ توګه د طبقاتي شعور، طبقاتي تضادونو او ټولنيز نقد څرګندونه ده. په ځانګړي ډول د «دريه» په څېر افسانو کې د ولور، اقتصادي نابرابرۍ او ټولنيز حيثيت پر

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

بنسټ ولاړ دوديز جبر-استبداد د انساني تراژيدۍ د اصلي لامل په توګه وړاندې کيږي. ليکوال د فردي بدمرغۍ تر شا د ټولنيزو، اجتماعي او اقتصادي اړيکو موجوديت رابرسېره کوي او په دې توګه د ټولنيز واقعيتپالنې، طبقاتي تضادونه، د تضاداتو ه نوعيت کې کتنه او انتقادي شعور استازيتوب کوي. د هغه افساني دا څرګندوي چې غربت، استحصال او محروميت شخصي ستونزې نه دي، بلکې د يو ناعادلانه ټولنيز جوړښت، طبقاتي نظام د خوار او زورور تر منځ ځبښناک پايلې دي.

د فاروق سرور په فکري نړۍ کې د جګړې، استبداد او سياسي تشدد پر وړاندې مزاحمتي شعور ځانګړی ځای لري. د افغانستان د څو لسيزو جګړې، بېځايه کېدو-ګډوالي-مهاجرت ، ناامنۍ او نړيوالو سامراجي سياسي مداخلو اغېزې د هغه د افسانو په مهمو موضوعاتو بدلې شوې دي. هغه جګړه د وسلو او وينې توېدنې سره سره د انسان د روح، هويت، کلتور او ټولنيزو اړيکو د ويجاړۍ د بهير په توګه انځوروي. له همدې امله د هغه افساني په يوه اړخ کې د محکومې ولسونو ملتونو د کېټارسس او شعوري مبارزې بيان دی او بل اړخ کې پر دوی روان ځبښناک د د دوی د سولې، انسانيت او انساني کرامت د دفاع ادبي بيانيه هم ګڼل کېدای شي.

د فاروق سرور د افسانو بل مهم اړخ د نفسياتي او وجودي مسايلو ژوره څېړنه ده. هغه د انسان دروني وېره، يوازيتوب، محروميت، جنسي فشارونه، ارمانونه او رواني کشمکشونه د علامتونو او اشاراتو له لارې بيانوي. د هغه په افسانو کې انسان د ټولنې قرباني سره سره د خپلو دروني-دننه تضادونو او وجودي تشو سره هم مخامخ دی. همدې ځانګړنې د هغه افساني د نفسياتي واقعيتپالنې او معاصر ادبي شعور له مهمو بېلګو څخه ګرځولې دي.

همدارنګه د کلتوري بېګانګۍ، هويت او پرديتوب Alienation -مسئله د فاروق سرور د افسانوي فکر يو بنسټيز محور جوړوي. په «مانو» او ورته نورو افسانو کې دا څرګندېږي چې استعماري او واکمن جوړښتونه څنګه انسان له خپلې خاورې، ژبې، کلتور او تاريخي حافظې څخه بېلوي، څنګه يې پرېدي کوي، څنګه بېګانه کيږي. دلته پرديتوب د جغرافيايي سره د فکري، کلتوري، وجودي او روحي بڼه لري. ليکوال د هويت د بحران او کلتوري بېړيښګۍ ستونزه د معاصر پښتني ژوند له مهمو فکري ننګونو څخه ګڼي.

په هنري لحاظ فاروق سرور د علامتي، سمبوليک، تجريدي او مابعد جديدو تکنيکونو له لارې پښتو افسانه له نويو ادبي تجربو سره اشنا کړې ده. هغه ځای پر ځای د مستقيم بيان پر ځای له اشارو، استعارو او سمبولونو څخه ګټه اخلي، څو د ټولنيزو او سياسي حقيقتونو ژورې معناوې راوسپړي .

په ټولنيز ډول فاروق سرور د سهيلي پښتونخوا د پښتو افساني هغه استازی دی چې د واقعيت پالنې، مزاحمتي شعور، انساني همدردۍ، کلتوري قدرونو او هنري نوښت تر منځ يې توازن راوستی دی. د هغه افسانوي نړۍ د پښتني ټولنې د سياسي بېثباتۍ، اقتصادي استحصال، کلتوري بحران او انساني ارمانونو يو ژور تخليقي انځور وړاندې کوي او د پښتو افساني د نظرياتي ايډيالوژيکي او هنري ودې په بهير کې ځانګړی مقام لري.

نصيب الله سمياب د سهيلي پښتونخوا د پښتو افساني له هغو مهمو ليکوالو څخه دی چې د ټولنيز واقعيت، جګړې، مهاجرت، ارزښتي بحران او انساني محروميت موضوعات يې د هنري ژورتيا او فکري تعهد له لارې انځور کړي دي. د هغه افساني د معاصرې پښتنې ټولنې د سياسي، اقتصادي او کلتوري حالاتو ريښتينې هنداره ده او د فردي درد تر شا پراته ټولنيز او تاريخي عوامل رابرسېره کوي. د «بنده دروازه»، «منجاري» او «دستار» افسانوي ټولګې د هغه د فکري او هنري پخوالي څرګندې بېلګې دي.

د سمياب د افسانو يو مهم نظرياتي محور د جګړې، بېثباتۍ او جبري مهاجرت تراژيدي ده. په «مسافري» کې د اختر او شګفتې د مينې د بېلتون کيسه د اقتصادي مجبورۍ او کډوالۍ انساني درد څرګندوي، په داسې حال کې چې «نامعلوم» د جګړې او جبري ورکېدو هغه تراژيدي انځوروي چې پکې انسان خپل هويت هم له لاسه ورکوي. همدارنګه «بې نومه مسافر» د وران وطن، ناامنۍ او سياسي بېياورۍ سمبول دی، چې د جګړې له امله د ټولنيزو ارزښتونو د کمزورۍ تصوير وړاندې کوي.

د ښځې مقام او د نرواکي جوړښت نقد د سمياب د افسانو بل مهم اړخ دی. په «تشه غوځې» کې د اولاد نه‌کېدو ټول تور پر ښځه اچول کېږي، حال دا چې ستونزه د ميړه وي، او په «د پيرۍ لکړه» کې د دوديزو بنديزونو له امله يوه نجلۍ ځان وژنې ته رسېږي. «ژوندی کاڼي» بيا د ښځې پر وړاندې د واکمنو قشرونو د استحصال او د عدالت د کمزورۍ ژور انځور وړاندې کوي. دا افساني د ښځو د محروميت او ټولنيز جبر پر وړاندې انتقادي دريځ څرګندوي.

له بلې خوا، سمياب د سمبوليزم او تمثيل له لارې د ملي، اخلاقي او معنوي ارزښتونو دفاع هم کوي. په «دستار» کې دستار د عزت، وقار او ټولنيز ناموس سمبول دی، په «بنګړيوالە» کې بنګړي د سولې او خوښۍ نښه ده چې جګړه يې پر ځای ټوپک راولي، او په «دريمه دروازه» کې د معرفت او شعور لټون د انسان د فکري تکامل تمثيل کوي. په ټوليز ډول د نصيب الله سمياب افساني د جګړې، بېعدالتۍ، ارزښتي زوال، انساني درد او اخلاقي مقاومت ادبي بيان دی. هغه

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

د واقعیت‌نګارۍ، سمبولیزم او ټولنیز تعهد له لارې د پښتني ټولنې تاریخي او فکري بحرانونه انځوروي او د سهیلي پښتونخوا د پښتو افسانې په ایډیالوژیکي وده کې ځانګړی مقام لري.

د میر حسن اتل «د شکراني پوسه»، د بهار ناصر «بایسکل» او د باور خلیل «بودی ټال» هغه افسانې دي چې د سهیلي پښتونخوا د ولسي ژوند بېلابېل ټولنیز او فکري بحرانونه په هنري او انتقادي بڼه انځوروي. که څه هم د دغو افسانو موضوعات جلا جلا دي، خو ټولې د محرومو او ځپل شوي نسل د ژوند، ارمانونو او ستونزو استازیتوب کوي.

په «د شکراني پوسه» کې د سنګین مسافري، د بنادګل اکا بېوسي او د ارغند مرینه د فقر، کډوالۍ او ناپوهۍ ګډه تراژیدي څرګندوي. لیکوال د ارغند د ناروغۍ او د عصري درملنې پر ځای د دم او تعویذونو کارولو له لارې د هغه ټولنیز ذهنیت نقد کوي چې لا هم د علمي شعور پر ځای پر تقدیرپالنې determinism او خرافاتو تکیه کوي. همدارنګه د ملا کردار د مذهبي اقتدار او ټولنیز نفوذ د یوې انتقادي نښې په توګه راڅرګندېږي.

په «بایسکل» کې بخت میر اکا د مزدور او بېوسه انسان استازیتوب کوي. د انارګل لپاره د بایسکل اخیستلو ساده ارمان د اقتصادي نابرابرۍ او طبقاتي استحصال تر فشار لاندې ماتېږي. په کیسه کې بایسکل د ماشوم د خوښۍ او د نیکه د مینې سمبول دی، خو فقر او استحصالي ټولنیز جوړښت د دې ارمان د تحقق مخه نیسي. افسانه د مزدور انسان د عزت نفس، خاموش درد او ټولنیز محرومیت ژور انځور وړاندې کوي.

«بودی ټال» بیا د نرواکي patriarchal ټولنې او جنسیتي نابرابرۍ پر وړاندې یو پیاوړی هنري احتجاج دی. دورانۍ د ښځې د هغه محروم او محدود ژوند استازیتوب کوي چې پکې د ازاد انتخاب او خپلواکۍ حق نه لري. د بودي ټال سمبول د نجات او بدلون د هیلې استازیتوب کوي، خو د افسانې تراژیدیک پای څرګندوي چې خرافاتي هیلې د واقعي ټولنیز بدلون بدیل نه شي کېدای. دغه افسانې د فقر، ناپوهۍ، طبقاتي استحصال، جنسیتي فرق او ټولنیز جبر پر وړاندې انتقادي شعور وړاندې کوي او د سهیلي پښتونخوا د معاصرې افسانې د ټولنیز تعهد او واقعیت‌پالنې مهمې بېلګې ګڼل کېږي.

د جعفر خان ودان د افسانو ټولګه «ستی» د پښتني ټولنې د وجدان، تضادونو او رواني دردونو یو ژور ادبي انځور وړاندې کوي. دا مجموعه (۲۰۱۲، کوټه) دیارلس افسانې لري، خو هره کیسه یې د یوې ځانګړې ټولنیزې ستونزې تمثیل دی. لیکوال د ساده کلیوالي روایت له لارې د واک، مذهب، جنسیتي جبر، اقتصادي نابرابرۍ، بدل، او اداري فشار institutional pressure څو پوړیز نقد په ډېر ساده اولسي بڼه وړاندې کوي، د لیکوال مهم اړخ دا دی څې هغه کیسه هغه سي وړاندې کوي لکه څنګه چې څه په ټولنه کې روان دی .

په «ستی» کې د ښځې ژوند د دودیزې قربانۍ تر سیوري لاندې بندي دی. غوټۍ د کورنۍ د بقا په نوم د واده له حقه محرومه کېږي، او مذهب د ټولنیز کنټرول وسیله ګرځي. په «توپک» کې د کیسې، جرګې او دیني ظاهر تر شا د قدرت پټ نظام څرګندېږي، چې عدالت د زور تابع ګرځي. «امکان» د ذهني اضطراب او ټولنیز شک تمثیل دی، چیرې چې سپیان د وېرې او وجدان سمبول ګرځي. «پخه» او «لغړي» د بدل او سیاسي شعارونو، تش په نامه ملتپاله سیاست تر منځ د ماشومتوب او فکر ماتي انځوروي، او «مور دولس» فلسفي او تاریخي پوښتنې راپورته کوي.

لیکوال له تمثیل(allegory) ، سمبولیزم او داخلي مونولوګ څخه ګټه اخلي. جومات، جرګه، کور او پوهنتون د قدرت-واکمن جوړښتونه دي. د ودان کیسې قاطع ځواب نه ورکوي، بلکې پوښتنې راپورته کوي څې ایا دود د انسان لپاره دی که انسان د دود لپاره؟

شفا کاکړه د سهیلي پښتونخوا له هغو معاصرو افسانه‌لیکونکو څخه ده چې د ښځینه تجربې، ټولنیز جبر او کلتوري تضادونو د انځورولو لپاره یې یو څرګند انتقادي غږ رامنځته کړی دی. د هغې افسانوي ټولګه «افغاني رنځوره» (۲۰۱۵) د پښتني ټولنې د ذهني جوړښت، خرافاتو، وهماتو، ناپوهیو او نرواکي نظام ژوره هنري څېړنه وړاندې کوي. په دې ټولګه کې افسانې لکه «قبر ځانګو»، «جرمني»، «مسافر»، «زرغونه تنی» او «خپلې» د ورځني ژوند تر شا پټ دردونه، ټولنیز کړکېچونه، تضادونو رابرسېره کوي، چیرته چې ناروغي، مینه، واده او مرګ ټول د دود، تعصب، استبداد، ساختیاتي او ناپوهۍ له فضا سره تړل شوي دي.

د شفا کاکړ افسانې په ځانګړي ډول هغه حالتونه انځوروي چېرته چې د طبي علم پر ځای دم، تعویذ او زیارت ته رجوع کېږي. ناروغ ماشوم تر وروستي حده پورې د ملا او قبرونو تر اغېز لاندې ساتل کېږي. همدارنګه د نرواکي ټولنې هغه سخت واقعیت هم څرګندېږي چې ښځه د کار، زده‌کړې او شخصي ارادې په لاره کې له شک، فشار او استحصال سره مخ وي.

د «ځانګو» افسانه د انارګلي د ژوند له لارې د مینې، فقر او خرافاتو ګډه تراژیدي وړاندې کوي. ناروغه ماشومه د درملنې پر ځای قبرونو او تعویذونو ته وړل کېږي، او په پای کې د بلې ښځې غمجنه کیسه دا فکر ژوروي چې خرافات، وهمات، ناپوهي څنګه د نسلونو درد تکراروي.

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

په «د لیک جواب» کې ګلالۍ د نرس په توګه د کورني فشار ترڅنګ د کار په چاپېریال کې د جنسي استحصال ښکار کېږي. دا افسانه د ښځو پر وړاندې د ټولنیز تعصب او ناوړه ځواک اړیکې ښکاره کوي، چیرته چې علمي او مسلکي فضا، پوهې فضا هم له اخلاقي سقوطه، جنسي استحصال خوندي نه ده.

»ځیګندو» د ګډ کورني نظام هغه تضادونه ښیي چیرته چې شخصي پرېکړې د ټول کور په بحران بدلېږي. طلاق، ناروغي او جبري واده ټول د کورنۍ د بقا په نوم د تش ځببښناک اجتماعي ژوند په نوم د فردي ارادې قرباني کوي.په «مسافر» کې د فکري جمود او تعلیم د نابرابرۍ نقد کېږي. مسافر د پښتني کورونو د «هدیرو» په څېر چوپتیا ته اشاره کوي، چیرته چې ژوند شته خو حرکت نه شته، او فکر له پرمختګ څخه پاتې شوی وي.

د شفا کاکړ افسانوي نړۍ د پښتني ټولنې یو انتقادي ریالېزم وړاندې کوي. هغه د ښځو درد، خرافاتي باورونه، د تعلیم کمزوري، او د کورني نظام تضادونه په داسې هنري انداز کې رااخلي چې لوستونکی له دودیزې خاموشۍ څخه فکري پوښتنې ته اړ کوي. د هغې افساني د ټولنیز شعور، ښځینې شعور او د نرواکي په ګوته کولو شعور د راویښولو هڅې دي، چیرته چې هنر د ګټور نقد، رغښت او بدلون ژبه ګرځي.

ډاکټر برکت شاه کاکړ افسانه «وروستی ګام» د پښتني کلیوالي ټولنې د جبري واده، ناموسي فشار، نرواکۍ او د ښځې د فردي ارادې ترمنځ د ټکر یو ژور هنري انځور وړاندې کوي.د «وروستی ګام» د افسانې له تحلیله څو مهم ایډیالوژیک، ټولنپوهنیز او فکري بصیرتونه رااېستل کېدای شي .

ترټولو دمخه د پدرسالارۍ (Patriarchy) نقد په افسانه کې رااېستلې شو لکه دا پوښتنه راپورته کوي چې ولې د ښځې پر ژوند، بدن او راتلونکي پرېکړه نور کسان کوي؟ تورپېکۍ د خپل برخلیک واک نه لري؛ پلار، اکا، وصیت، دود او ټولنه یې پر ځای پرېکړه نیسي. دلته ښځه د خپلواک فرد په توګه نه، بلکې د کورنۍ د نظم د ساتلو وسیله ګڼل کېږي. دویم د «ناموس» د نظریاتي نقد مور رااېستلې شو چې افسانه کې ناموس د تش په نامه اخلاقي ارزښت پر ځای برته د استبدادي ټولنیز کنټرول وسیله ګرځي. تورپېکۍ ته ویل کېږي چې د کورنۍ عزت تر خپلې خوښې لوړ دی. دلته لیکوال دا پوښتنه راپورته کوي چې ایا د کورنۍ عزت باید د یوې نجلۍ د ژوند، مینې او ازادۍ په بیه وساتل شي او ولې یوازې تر دوی محدوده دې ؟ بل په افسانه کې ترټولو مهم اړخ د جوړښتي یا ساختماني جبر (Structural Violence) یا ګرسره په ټولیزه توګه د ساختیاتي سره تړلي مهم په ګوته کوي. ځینې وختونه دود، رواج، کورنۍ فشار او ټولنیز قضاوت د جبر هغه بڼې دي چې انسان محدودوي. تورپېکۍ زندان ته نه ده اچول شوي، خو د انتخاب ټولې لارې تري تړل شوې دي، ټولنیز ساختیات چاپېریال داسې جوړ دي چې د فزیکي زندان نه هم زیات ستړي کونکي خندِ اچونکي ده. یو مهم بصیرت چې برکت شاه کاکړ صاحب ټیکنیکل څرګندوي هغه Internalized Oppression ده، دا هغه څه دي چې معاصر پوهان یې د محکومې ټولنو لپاره کاروي لکه پښتانه وایي د ځان دوشمن اوسېدل، نو د دغه اصطلاح معنا هم دا یو محکوم برته په خپل ځان محکومیت- ظلم ته جواز لاره خپله په ټاکي لکه تورپېکۍ خپله هم د ټولنې ارزښتونه تر یوه حده منلي دي. هغه د پلار د شملې، د خلکو د خبرو او د بدنامۍ له وېرې خلاصه نه ده. دا هغه څه دي چې معاصر فمینسټ هم دغه فکر "Internalized Oppression" بولي. د افساني تر ټولو ژور ایډیالوژیک پیغام دا دی چې ستونزه یوازې د تورپېکۍ، لالو، ایمل یا جمعه ګل په شخصیتونو کې نه ده. اصلي ستونزه په هغه ټولنیز جوړښت کې ده چې جبري ودونه، د ټولنې د ناموس فشار او د ښځې بېاختیاري زېږوي. له همدې امله لیکوال د افرادو تر نقد زیات د ټولنیز نظم پر ساخت سوال راپورته کوي .

پایله:

د دې څېړنې بنسټیزه موخه د سهیلي پښتونخوا د پښتو لنډو کیسو نظریاتي-ایډیالوژیکي او موضوعاتي څېړنه وه. د څېړنې د نظریاتي او تاریخي برخو له جاج څخه څرګندیږي چې لنډه کیسه د معاصر ادبي ژانر په توګه که څه هم په نولسمه او شلمه پېړۍ کې خپل فني تشخص مومي، خو د هغې فکري، روایتي او داستاني ریښې د بشري تمدن تر لومړنیو دورو رسېږي. اساطیر، مذهبي روایتونه، فولکلوري حکایتونه، اتلولیز داستانونه او شفاهي روایتونه د هغه داستاني شعور بنسټونه جوړوي چې وروسته د معاصرې لنډې کیسې په ادبي قالب کې راڅرګندېږي.

زمور د دې څېړنې تاریخي برخې وښوده چې کیسه د انسان د نړۍ پېژندنې، ټولنیزې حافظې، تشریحاتو، فطرت پېژندنې ته لټون، کیسه د انسان د مانا جوړونې (Meaning Making) له بهیر سره، اخلاقي روزنې او هویتي جوړښت یو بنسټیز ذهني میکانیزم پاتې شوی دی. له سومري او مصري تمدنونو څخه نیولې، تر آریانا افغانستان لرغوني ویدي، اوېستایي، یوناني، اسلامي او اوسني جدید پښتني روایتونو پورې داستان تل د انسان د وجودي پوښتنو، ټولنیزو اړیکو

AL-AASAR Journal
Quarterly *Research Journal*
www.al-aasar.com

Vol. 3, No.2 (2026)
Online ISSN: 3006-693X

Print ISSN:3006-6921

او کلتوري ارزښتونو د بيان وسيله پاتې شوې ده. له همدې امله معاصره لنډه کيسه د يوې ناڅاپي ادبي پديدې په توګه نه، بلکې د زرګونو کلونو د داستاني ارتقا د بهير د يوې پرمختللې مرحلې په توګه درک کېدای شي.

زمونږ څېړنې دا هم څرګنده کړه چې پښتو لنډه کيسه د شلمې پېړۍ له سياسي، ټولنيزو او فکري بدلونونو سره تړلې راڅرګنده شوه. د استعماري نظام، عصري تعليم، چاپي مطبوعاتو او نوي فکري جريانونو، مقاومتي شعور، ټولنيز کړکېچونو اغېزو پښتو ادب ته د بيان نوې لارې پرانيستې. په همدې بهير کې پښتو افسانه د ټولنيز شعور، مزاحمتي-مقاومتي شعور، اصلاح غوښتنې او انتقادي فکر د ادبي وسيلې په توګه راڅرګنده شوه او وروسته يې د سهيلي پښتونخوا په ادبي چاپېريال کې ځانګړی او خپلواک مسير ومونده.

د سهيلي پښتونخوا د پښتو لنډې کيسې د ارتقا او پراختيا له جاج څخه څرګندېږي چې دا ادب د هنري تخيل محصول سره زيات د دې سهيلي پښتونخوا د سيمې د سياسي، اقتصادي، کلتوري او تاريخي تجربو انعکاس هم دی. د دې سيمې افسانهليکونکو د جګړو، بېځايه کېدو، استعماري فشارونو، ښکېلاک پاتې ميراث قبايلي جوړښتونو، اقتصادي نابرابرۍ، طبقاتي تضادونو، جنسيتي نابرابرۍ، قومي هويت، کلتوري بحران او انساني محروميت موضوعات د ژور هنري او فکري شعور له لارې انځور کړي دي.

د نظرياتي څېړنې پايلې ښيي چې د سهيلي پښتونخوا د لنډو کيسو مهم ايډيالوژيکي محورونه ټولنيز واقعيتپالنه (Social Realism)، انتقادي شعور(Critical Consciousness) ، انسانډوستي(Humanism) ، مزاحمتي شعور (Resistance Consciousness)، ملي شعور national counciousnous ښځينه شعور (Feminist Consciousness)، طبقاتي شعور، اقتصادي محروماني، کډوالي مهاجرت په حواله څرګندوني، جنګ جهګړې، جغرافيايي ويش، سياسي پوهاوی، قومي-ملي هويت(National Identity) ، کلتوري حافظه (Cultural Memory) او عقلانيت (Rationalism) او داسي نور دي. دغه افساني د ټولنې موجود جوړښتونه طبيعي او ابدي نه ګڼي، بلکې دا دوی مادي د نقد، پوښتنې او بدلون وړ ټولنيز جوړښتونه يې بولي.

همدارنګه څېړنې وښوده چې د درمحمد کاسي، محمد نظر پانيزي، فاروق سرور، ميرزا خان پېڅې او نورو افسانهليکونکو په اثارو کې افسانه د قدرت، واک، هويت، استحصال، مقاومت او ازادۍ د مفاهيمو د فکري تحليل وسيله هم ده. د دوی افساني نړۍ د فردي تراژيدۍ تر شا پراته ټولنيز، اقتصادي، سياسي او کلتوري عوامل رابرسېره کوي او لوستونکی د واقعيت ژور درک ته رابولي.

د دې څېړنې يوه مهمه موندنه دا ده چې د سهيلي پښتونخوا پښتو لنډه کيسه د سيمې د ټولنيز تاريخ يو متبادل متن (Alternative Text) هم ګڼل کېدای شي. ځکه چې دېر هغه دردونه، تضادات، مقاومتونه او تجربې چې رسمي تاريخ يې نه ثبتوي، افسانه يې خوندي کوي. له همدې امله افسانه د ټولنيزې حافظې، فکري مبارزې او کلتوري بقا يوه وسيله هم ده.

په لويه هنداره کې مورِ ويلای شو چې د سهيلي پښتونخوا پښتو لنډه کيسه د فني ودې ترڅنګ يو غني ايډيالوژيکي او فکري ميراث هم رامنځته کړی دی. دا افساني د انسان، ټولنې، قدرت، هويت، ټولنيز بدلون، شعور جوړونه، نرم ځواک، دريځ جوړونه، narrative engineering کول او بدلون ترمنځ اړيکې څېړي او د پښتنې ټولنې د تاريخي تجربو ژور انعکاس وړاندې کوي. له همدې امله د سهيلي پښتونخوا لنډه کيسه نه يوازې د پښتو ادبياتو يو مهم ژانر دی، بلکې د سيمې د فکري تاريخ، ټولنيز شعور او کلتوري هويت د مطالعې لپاره هم يو ارزښتناک علمي او ادبي ماخذ ګڼل کېږي.

حوالې

(1) حنيف ، ابن. (۱۹۸۲)، د نړۍ ترټولو لرغونی ادب، کاروان ادب، ملتان، ، مخ ۱۹۹ .

(2)Frazer, j.G. (1922) The golden bough: A study of magic and religion. macmillan

(3)Burner, j. (1986) Actual minds, possible words, Harvard university

(4)Barthes, R. (1957). Mythologies (A. Lavers, Trans., 1972 ed.) Hill and Wang

(5) هما، ع. (2015).اردو اور پشتو کے نمائندہ افسانی. پیښور: پښتو اکېډمي، پیښور یونیورستی.

(6) عابد، عبدالله جان .(2004) .A. پشتو زبان اور ادب کی مختصر تاریخ. سوات: گران خپروندویه ټولنه.

(7) تاج، ف. (۲۰۲۳). بلوچستان میں پشتو افسانے کا آغاز اور ارتقاء (ایمفل تھسیز).

(8) انځور، ز.(2020). پښتو معاصره داستاني ادبیات. جرمني: افغانستان د کلتوري ودي ټولنه.

(9) انځور، ز. (۲۰۲۰). د سهیل داستاني ستوری. جلال‌اباد: هاشمي خپروندویه.